مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۳/۰۳

# « اخ! چې لنډې فاصلې وای»

## شعري ټولګه

## او د هادي د شعر ښکلا

## لومړۍ برخه

**اخ چې لــږ خو رانږدې وای، اخ چې لنډې فاصلې وای**
**د هــادي د ژونــد امیده، لــه خـوبـونـو نـه ښایسته يي**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سمـنـــدر پــر غـــاړه ډوبـــه، ډوبـــه ساه وباسم
له هــر نفس نـــه مي نـــاځــوانـــه يـــاره تـــا وباسم

پوهيږم هيڅ به راته پاتې نه وي، خاورې به وي
کـــه له شعرونو نه مي ستا د عشق ښکلا وباسم

دومره آسانه به هم نه وي چې دي هيـره کـړمه
د ستنې سپم نـــه بـــه څـلـور کـونجه دنيا وباسم

(اخ! چې لنډې فاصلې واى، ص ۲۳۳)

له هغه وخته چې زه عبدالهادي هادي پيژنم، دى مخامخ، په منده او بيړه نه دى هادى شوى، دى له ډيرو ستونزو او محکونو را تير او په ډيرو غاښيو او پيچومو ختلى او له سترو مزلونو نه وروسته اوسنى هادى ور نه جوړ دى.
که مي د حافظې چيپ په سمه توگه ياري راسره وکړي، ما هادي لومړى ځل په نوي ښار کي د قبايلو د نشراتو رياست په انگړ کي په يوه مشاعره کي وليد. مشاعره ښه په درز کي روانه وه، چې ناڅاپه ځينو ځوانانو شور بگت جوړ کړ چي يو په کي همدا عبدالهادي هادي و.
کيسه داسي وه چي کوم چا خپل شعر په لوړ غږ سره اوراوه او هغه مبارک؟ په قافيه کي له شلغم، چم، تم، کم، او... سره، لري مو له مخي د «بلغم» توری همقافيه کړی و. ښاغلي شاعر کله د «بلغم» بيت ولوست، ناڅاپه څو خوانانو د طنز په ډول غږ کړل چي:

دا بيا ووايه!
هغه هم په تکرار سره، بيا و وايه.
يو تن له څوکى جگ شو او په يوازې تن يي په لوړ آواز ورغږ کړ:
دا بيا ووايه!
دا غږ کونکى عبدالهادي هادي و.
همدلته له هادي سره معرفي شوم او وروسته له هغه مو د ليکوالو په ټولنه، ځينو سيمينارونو او ادبي غونډو کي سره ليدل.
بيا نو گوره وخت او حالات. سور باد تند شو، بيا شين باد پسي راوالوت، دا باد دومره تند او مرگونى و چي سونامي يي بچى هم نه و. ډير خلک يي سټ کړل، ډيرو ورنه يو سر دوه غوړونه وايستل، چي په دې وتلو کي زه او دى هم وو، خو ما په پيښور کي د خپلي لنډى دمي په موده کي دی و نه ليد.
د ۲۰۰۷ کال په اوړي کي، وروسته له اوږدې مودې بيا خداى د کابل او کابل ميشتو يارانو زيارت راباندي ولوروا‌ه.
دا وخت هادي په مخابراتو وزارت کي کومه دنده لرله.
زه به په بيکاره وختونو کي د کابل په کوڅو او واټونو کي گرزيدم. يوه ورځ په پل باغ عمومي کي د مخابراتو وزارت له اړخه تيريدم چې هادي گل را ياد شو. ما ويل راځه يو خو به يي وگورم او بل به د خپلو اخيستو کتابونو ليرلو چل هم راوښيي. په لومړي منزل کي مي د مالوماتو له غرفي نه د ده د دفتر پوښتنه وکړه، يوه ډيره ښکلي او با ادبه جلۍ ناسته وه، ما ته يي کړل چي:

«از خارج آمدي؟»
ما ويل هو.
پته يي را وښوده او د وروستى جملي په پاى کي وويل چي:
«خو...»
ما ورته وويل چي خو هم په کي شته؟
هغي په ډيره مهربانه لهجه راته وويل:
«ميشه که امروز وخت نه داشته باشه!»
زه وروختم، پته مي پيدا کړه، د دفتر د دروازې په مخ کي يو کاکا ناست و. په ډير درناوي مي ورته وويل چي عبدالهادي هادي مي په کار دى. کاکا راته کړل چي:
«بيادر کدام وخت دگه بيا، او آلي همراى وزير صاحب ده مجلس شيشته.»
ما په ډير عُجز ور ته وويل چي زه بل وخت نه شم کولاى چي راشم، که کيداى شي يو وار يي خبر کړه چي په دغه نامه يو څوک راغلى دى. سړي بيا څه استدلال پيل کړ، ما چې خبره ورغبرگه کړه، هغه راته وويل:
«... او بيادر اميجه هرکس که ده پرسان رئيس صاحب ميايه، ميگه که سبا مه آمده نميتانم، بيا، بيادر مه اتاقه نشانت ميتم، خودت صدايش کو، تو ميفامي کارت!»

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ما ویل درځه!
یو که دوه پوړه یې نور هم پاس وخیژولم، له ځو متره لرې یې دروازه راوښودله چې هلته ناست دی، ورشه. ما دروازه وټکوله او ورو مې نیمګښه ور خلاصه کړه. که ګټل مې چې هادي مبارک مخامخ ناست او پر ما یې سترګې ولګیدي او له لیدلو سره سم یې وویل:
او، اې، استاده ته یې!
او راجګ شو را ووت، له سترې مه شي وروسته یې کاکا ته وویل چې دفتر ته لاړ شئ زه ځو دقیقې وروسته درځم.
هادي راغي ځو ساعته کیناستو او لکه د چا خبره د دنیا ځلور کونجونه مو را ګز و پل کړل او په پای کې ما ورته وویل:
هادي ګله که کولای شي، د همدې وزارت له امکاناتو نه په قانوني توګه استفاده وکړه او کومې خوا ته د علم په درویزه پسې ووزه، نه دا چوکې پاتې کیږي او نه هم ستا دا ځو دندې. له هماغي ورځې نه مې بیا هادي تر نن پورې نه دی لیدلی.
خپله یوه بله شعري ټولګه یې هم د چا په لاس راته رالیږلې وه چې اوس نوم رانه هیر دی.

او اوس دا دی:

**« اخ! چې لنډي فاصلې وای»**

نن د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ شپږویشتمه نیټه ده چې د ده « اخ! چې لنډي فاصلې وای» شعري ټولګه را ته را ورسید. کله مې چې کشرې زوی پاکټ په لاس کې راکړ، پاکټ دومره سوړ و لکه د یخ ټوټه خکه چې له ځو ورځو راپه دیخوا پر اروپا باندې د سایبیریا سړې څپې را خپرې شوي دي، په همدې دلیل اوس په ډنمارک کې زما د اوسیدو په کلي کې منفي شپږ ښودل کیږي.
پاکټ مې خلاص کړ کتاب مې راویست، لکه د چا خبره کتاب خبرې راسره پیل کړې او را نه یې پوښتنه وکړه چې:

**ـ انډیواله ته څوک یې؟**

**ـ زه چیرې یم؟**

**ـ دا کوم ځای دی؟**

**ـ ډیر ساړه مې کیږي، لږ مې درخوندي کړه او...**

ما هم پر کوچ باندې خپل څنګ ته کینوډ او ورته ومې ویل:

**ـ په خیر راغلې، راځه کینه تود به شې!**

هادي تر اوسه پورې د شعرونو پنځه ټولګې د خپلو شعرونو مینه والو ته وړاندې کړیدي چې وروستی یې **«اخ! چې لنډي فاصلې وای»** نومیږي. هادي که کوم وخت خپله اوتو بیوګرافي ولیکي، ښایي اوږده به وي، خو په ۲۰۱۵ کال یې یو وار په **میډیا** کې یوه لنډه بیوګرافي راغلې وه چې زه یې دلته ځینې اړینې برخې له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

«ښاغلی عبدالهادي هادي د محمد حیدر زوی دی. دی د سمنګان ولایت د ایبکو په ښار کې په یوه متدینه کورنۍ کې نړۍ ته راغلی دی.
عبدالهادي هادي خپلې زده کړې د ایبکو له ابتدایه مرکز نه پیل کړې چې وروسته یې خپلې منځنۍ زده کړې د کابل د خوشال خان په لیسه کې تر یو څه مودې پرمخ بوتلې، خو وروسته رحمان بابا لیسې ته ولاړ او له همدې لیسې نه یې دولسم ټولګي نه د فراغت سند ترلاسه کړ. خپلې لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې تر سره کړې.
لومړنی دنده یې د افغانستان د لیکوالو اتحادیې نه پیل کړه، په افغانستان کې د رواني غمیزې له نوي پړاو سره سم، د کابل د بې کوره شویو کډوالو له یوه لوی بهیر سره په نویمو زیږدیزو یا اویایمو لیږدیزو کلونو کې پیښور ته لیږدیدلی دی، هلته یې د کډوالې په مهال دولس کاله د افغانستان لپاره د بي بي سي راډیو په تعلیمي خپرونو کې د خبریال، لیکوال او پروډیوسر په توګه دننه په افغانستان او پاکستان کې کار کړی دی. د طالبانو تر نسکوریدو وروسته یې له بي بي سي سره د کار تر څنګ د آلمان د میډیوتیک موسسې په ملاتړ د وربښم په نوم پښتو ادبیاتو ته لومړنی ځانګړې شوې مجلې مسول مدیریت په غاړه واخیست او تر هغو یې مسول مدیر و چې ځو د مادي ستونزو له امله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د يادي مجلي چاپ ټکنی شو. تر دوه زره دریيم لمريز کال وروسته نوموړي د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژي وزارت کې د اسنادواو اړيکتيايي چارو د ريس، اداري ريس او همدا راز د دفتر د ريس او د وزارت د وياند په توګه خپلې دندې ترسره کړي دي چې د دفتر د رياست او د وزارت د ويندويي تر څنګ يې له ډيرو کلونو وروسته يو ځل بيا د مخابراتو د وزارت نشراتي برخه فعاله کړه، د دغه وزارت مجله (بريد) يې چې نږدې ديرش کاله خپره شوي نه وه، د (اړيکه) په نوم بيا پيل کړه او پنځه کاله يې له نورو مسوليتونو سره سره د يادي مجلې د مسول مدير په حيث هم کار وکړ. دی پر (۲۰۰۹) کال د آستراليا هيواد ته وليږديد او په (سيدني) ښار کې ميشت شو. اوس مهال په سيدنی کې د شمله په نوم د يوې راډيو مشر دی.

**خپاره شوي اثار:**

د عبدالهادي هادي څلور شعري ټولګې تر دې دمه خپرې شوې دي:

۱ـ ګل د شپې پر څنو، ۱۳۶۹ لمريز ليږديز کال، د ليکوالو ټولنه،

۲ـ د اورونو پر تنابونو، ۱۳۷۰ لمريز ليږديز کال، د اطلاعاتو او کلتور وزارت،

۳ـ مات غمي،

۴ـ ستا به باور نه راځي، د خوشحال فرهنګي ټولنه،

**نا چاپ اثار:**

۱ـ د لنډو کيسو دوې ټولګې،

۲ درې شعري ټولګې،

چې د غه اثار به يې په لنډه موده کې چاپ شي.
پر دې سربيره د ښاغلي هادي يو شمير شعرونه چې د هيواد نوموتې ديکلماتوري ميرمن سهيلا حسرت نظيمي وخت نا وخت ديکلمه کړيدي، د غږيزې مجموعې په توګه سي ډي شوي چې د تکثير چارې يې د بشپړيدو په حال کې دي.»

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ